د افغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حــــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۱۷/ رمضان المبارک /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۵/ حوت/۱۴۰۴هـ، ش

# د روژې د اخیري عَشَرِې اعمال، او پکې د اِعتکاف فضائل او احکام

## د اسلامي امارت څخه د ولس ملاتړ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي فَضَّل شهر رمضان على سائر الأوقات، وجعل صيامه سببا في تكفير السيئات، وخصَّ العشر الأواخر بمزيد من العطايا والدرجات، وجعل فيها ليلة القدر ليعفو عن الخطايا والزلات، وضاعف فيها أجور الأعمال والطاعات، وبعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ * تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ * سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ)القدر: (۱-۵)

**پتمنو مسلمانانو او ګرانو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله تعالی د کال په ټولو میاشتو کې د رمضان المبارک میاشت غوره پیدا کړې ده او عبادت په کې لوی اجرونه او ثوابونه لري.
ددې میاشتې لومړۍ لس شپې او ورځې د رحمت دي او ور پسې لس ورځې او شپې د مغفرت دي او اخیري لس ورځې او شپې د جهنم د اور څخه د خلاصون ورځې او شپې دي.

الله تعالی ددې میاشتې په هکله وایې :(أَيَّاماً مَعْدُودَاتٍ) دا شمیر ورځې دي .یعنې ډیرې کمې ورځې دي او ددې څخه مه غافله کیږئ. بلکې کوشش وکړئ چې په کې ډیر عبادت وکړئ او ثوابونه او اجرونه ترلاسه کړی او ګناهونه مو معاف شي.

لومړۍ لس ورځې تیرې شوې او دا لس ورځې هم په تیریدو دي؛ که چا په تیرو شپو او ورځو کې غفلت کړی وي، نو کوښښ وکړئ چې د رمضان المبارک میاشتې اخیرې عَشَره (لس ورځې او شپې) چې ډیر زیات فضیلت لري په عبادت ډکې کړئ او له تنبلۍ، سستۍ او د غفلت له خوب څخه راویښ شئ، الله مه کړه چې اخیري عشره درڅخه بدون د عبادت او طاعت تیره نشي.

صحابه کرامو او تابعینو به د رمضان المبارک د اخیری عَشَرې زیات درناوی کولو .عن أبي عُثمانَ رحمه الله قال: (كانُوا يُعَظِّمُونَ ثلاثَ عَشَرَاتٍ: العَشْرُ الأُوَلَ مِنَ الْمُحَرَّمِ، والعَشْرُ الأُوَلُ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ، والعَشْرُ الأواخِرُ مِنْ رَمَضَانَ) قيام رمضان لمحمد بن نصر المروزي (ص: ٥٦)

ژباړه: د ابو عثمان نهدي رحمه الله څخه روایت دی، هغه وایې، چې صحابه کرامو او تابعینو او نورو اسلافو به ددرې عشرو زیات درناوی کولو، د محرم لومړۍ عشره، د ذوالحجې لومړۍ عشره او د رمضان المبارک اخیري عَشَره.

بناءً مسلمان لره په کار دي چې په دغه اخيري عشره کې زيات عبادت او د خير کارونه وکړي، ځکه د مرګ هيڅ معلومات نشته او معلومات نشته چې مونږ به په آينده رمضان المبارک کې ژوندي يو او که به مړه شوي يو.

هغه اعمال او نيک کارونه چې بايد د رمضان المبارک په اخيري عَشَرې کې مؤمن بنده وکړي يو څه يې په لاندې ډول دي:

**۱-د رمضـــان المبارک د اخيري عَشَرې شپې په عبادت ژوندۍ کول.** مونږ لره په کار دي چې د اخيري عَشَرې شپې په عبادت ژوندۍ وساتو؛ ځکه نبي عليه السلام به د رمضان المبارک په اخيرې شپو کې دومره زيات عبادت کولو چې د کال په نورو شپو کې به يې نه کولو او ددې شپو په اړه د زيات اهتمام په وجه به يې خپل اهل هم راويښول .

په حديث شريف کې راځي: قَالَتْ عَائِشَةُ رضى الله عنها :«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَجْتَهِدُ فِى الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مَا لاَ يَجْتَهِدُ فِى غَيْرِهِ» صحيح مسلم (۳/ ۱۷۶)

ژباړه: حضرت ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به په اخيري عَشَرې کې دومره (زيات) کوښښ کولو (په عبادت کې) چې په نورو شپو او ورځو کې به يې په هغه اندازه نه کولو.

په يو بل مبارک حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ:« كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ». صحيح البخاري ت (۵/ ۱۶۰)

ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: وو نبي عليه السلام کله به چې لس ورځې داخلې شوې خپله ملا به يې کلکه وتړله او خپل اهل به يې را پاڅول( عبادت ته).

محدثين وايي چې په (شَدَّ مِئْزَرَهُ) کې کنايه ده په نيکو عملونو او عبادت کې د زيات زيار ويستلو څخه او کنايه ده عبادت ته د زياتې توجه کولو څخه.يا کنايه ددې خبرې څخه ده چې هغه صلی الله عليه وسلم د زنانه وو څخه لرې شو .مشارق الأنوار، للقاضي عياض(۱/ ۲۹)

په اخيرې عشره کې د ليلة القدر شپه ده چې په دغه شپه کې عبادت کول تقريباً د درې اتيا کلونو (۸۳) عبادت څخه بهتره دی.

په کار ده چې د امام سره په جماعت د تراويح لمونځ وکړی شي او د تروايح څخه علاوه د تهجد لمونځ هم وکړی شي.

که څوک د تراويح لمونځ د امام سره د شپې په لومړۍ حصه کې وکړي او وتر هم د امام سره وکړي، کوښښ دې وکړي چې د شپې را پاڅيږي او د تهجدو په لمانځه کې کوم کراهيت نشته.

حنفي فقهاء او مجتهدين وايي: دا مستحب ده چې څوک په ځان باورې وي چې د شپې لمانځه ته راپاڅيږي ، چې وتر لمونځ د شپې په اخره حصه کې د تهجدو لمانځه څخه وروسته وکړي. په حديث شريف کې راځي:«مَنْ خَشِيَ مِنْكُمْ أَنْ لَا يَسْتَيْقِظَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ مِنْ أَوَّلِهِ، وَمَنْ طَمِعَ مِنْكُمْ يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ، فَإِنَّ قِرَاءَةَ القُرْآنِ فِي آخِرِ اللَّيْلِ مَحْضُورَةٌ، وَهِيَ أَفْضَلُ» سنن الترمذي(۲ /۳۱۸)

ژباړه: څوک چې ويريږي ستاسې څخه چې د شپې په اخره برخه کې نشي راپاڅيدلی ، نو وتر دې د شپې په اوله برخه کې وکړي او څوک چې ستاسې څخه ددې اميد لري چې د شپې په اخيري برخه کې را پاڅيږي ، نو وتر دې د شپې په اخيرې برخه کې وکړي، ځکه د قرآن کريم تلاوت ته د شپې په اخره حصه کې ملائکې حاضريدونکې دي او دا افضل کار دی.

او که څوک دشپې په لومړۍ حصه کې وتر لمونځ د امام سره وکړي او بيا راپاڅيده او لمونځ يې وکړ، هغه اندازه چې دده لپاره ليکل شوی ؤ، نو په دې کې کراهيت نشته، بلکې دا مستحب کار دی او وتر به بيا نه راګرځوي.البحر الرائق (۱ /۲۶۱)، رد المحتار (۳ / ۱۳۹)

په یو روایت کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تهجدو لمونځ وکړ او بیا به یې وتر وکړل او بیا به یې دوه رکعته نفل لمونځ وکړ. عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ:سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلاَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: كَانَ يُصَلِّي ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُصَلِّي ثَمَانِ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ يُوتِرُ، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ). صحیح ابن خزیمة ط ٣ (١ /٥٤٧)

ژباړه: دابو سلمه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د عائشې رضي الله عنها څخه د نبي علیه السلام د(شپې) د لمانځه د څرنګوالي په اړه پوښتنه وکړه. هغې راته وویل: وو نبي علیه السلام چې لمونځ به یې وکړ دیارلس رکعته ، لومړی به ئې اته رکعته (د تهجدو) لمونځ وکړ، بیابه یې (درې رکعته) وتر وکړل او بیا به یې دوه رکعته لمونځ وکړ په داسې حال کې چې هغه به ناست ؤ.

**٢- د لیلة القدر د شپې تَحَرِّي او لټون.** په دې د ټولو علماوو اتفاق دی چې د لیلة القدر شپه د رمضان المبارک په اخیري عَشَره کې ده .د رمضان المبارک د اخیري عَشَرې د اعمالو څخه د لیلة القدر د شپې لټون دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د لیلة القدر دشپې په لټون استحبابي امر کړی دی او فرمایلي یې دي: عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-:«تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ ». صحیح مسلم (٣ /١٧٣)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ولټوئ د لیلة القدر(شپه) د رمضان المبارک په اخیري عَشَره کې.

په یو بل روایت کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « تَحَيَّنُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ ». صحیح مسلم (٣ /١٧٠)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل: ولټوئ وخت د لیلة القدر په اخیري لسو شپو کې.الله تعالی د لیلة القدر شپه د رمضان المبارک په اخیرې عشره کې پټه ساتلې ده ، ددې لپاره هغه څوک چې ددغه شپې ثواب حاصلول غواړي ، نو هغه به د رمضان المبارک اخیري عَشَرې شپې په عباداتو ډکې کړي او د اخیري عَشَرې شپې به په دې امید ژوندی وساتي چې ممکن دده عبادت د لیلة القدر د شپې سره برابر شي او د زرو میاشتو د عبادت ثواب به حاصل کړي.ح اشیة الطحطاوي علی المراقي (ص: ٢٦٤)

په همدې موخه نبي علیه السلام به د روژې اخیري عشرې په شپو کې زیات عبادت کولو او د کور خلک به یې هم ددغو شپو عبادت ته له خوبه راپاڅول. لیلة القدر هغه مبارکه شپه ده چې الله تعالی په کې قرآن کریم نازل کړی دی او د لیلة القدر د شپې عبادت د زور میاشتو یعنې تقریباً د (٨٣) کلونو له عبادت څخه بهتر دی.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ * تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ * سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ)القدر: (١-٥)ترجمه:بېشکه مونږ نازل کړی مو دی دغه (ټول قرآن) په شپه د قدر کې. او څه پوه کړی یې ته (ای محمده!) چې څه ده شپه د قدر (د عزت او شرافت له پلوه). شپه د قدر خیر غوره ده له زرو میاشتو څخه. نازلیږي ملائکې او روح په دغه شپه کې په اذن حکم د رب د هغوی. لپاره د هر کار (ټاکلي شوي په دغه راتلونکي کال کې) امان سلامتیا ده (له هر آفته). دغه شپه ده تر وخته د ختلو د سبا پورې ( د سلامتیا، فضیلت، برکت، کرامت).

**د لیلة القدر شپې ځانګړتیاوې، خصوصیتونه او فضائل په لاندې ډول دي:**

الف:الله تعالی دلیلة القدرپه شپه کې قرآنکریم دلوح محفوظ څخه اسمان دنیا ته نازل کړی دی.د همدې امله لیلة القدر شپې ته الله تعالی مبارکه شپه هم ویلې ده.(إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ).الدخان:(٣)ترجمه:بیشکه مونږنازل کړی دی دا(قرآن )په شپه مبارکه کې.(لیلة القدر کې)

ب: د لیلة القدر په شپه کې عبادت د زرو میاشتو له عبادت څخه بهتر دی. (لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ).

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ دَخَلَ رَمَضَانُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ هَذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ، وَفِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُومٌ» سنن ابن ماجه (١ /٥٢٦)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې د رمضان المبارک مياشت داخله شو، نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه دا مياشت تاسو ته راغله ، په دې مياشت کې يوه شپه ده چې هغه غوره ده د زرو مياشتو څخه ، څوک چې ددغه شپې د فضيلت څخه محروم شو، نو د ټول خير څخه محروم شو او نه محروميږي ددغه شپې له خير څخه مگر د خير څخه محروم انسان.

ج: بيشکه د ليلة القدر شپه ټول خير او برکت دی. (إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ) الدخان:(٣)

د: په دغه شپه کې بې حسابه او زياتې ملائکې ځمکې ته راښکته کيږي. (تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ)

په يو حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تِلْكَ اللَّيْلَةَ أَكْثَرُ فِي الْأَرْضِ مِنْ عَدَدِ الْحَصَى» صحيح ابن خزيمة ط (٢ /١٠٥٠)، أحمد ٢/ ٥١٩، الطيالسي ٤/ ٢٧٧ وقال الهيثمي: رجاله ثقات. المجمع (٣/ ١٧٥)

ژباړه: بيشکه ملائکې په دغه شپه کې ډيرى زياتې وي د کانو د عدد څخه .حافظ ابن کثير د پورتني آيت په تفسير کې وايي:( أي: يكثر تَنزلُ الملائكة في هذه الليلة لكثرة بركتها، والملائكة يتنزلون مع تنزل البركة والرحمة). تفسير ابن كثير / دار طيبة (٨ /٤٤٤)

ژباړه: يعني زيات وي نازليدل د ملائکول په دغه مبارکه شپه کې ددغه شپې د زيات برکت په وجه او ملائکې نازليږي د برکت او رحمت د نازليدو پر وخت.

هـ: د ليلة القدر په شپه کې د کال په اړه مهمې فيصلې کيږي. الله تعالی فرمايلي دي: (فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ) الدخان(۴)
ترجمه:په دغه (شپه) کې بيانوه شي بېلاوه شي هر کار حکمتناک (داسې ټينگ چې نه بدليږي). حکم له نزده زمونږ.
حافظ ابن کثير ددې آيت په تفسير کې وايي: (يعنې د ليلة القدر په شپه کې د کال په اړه فيصله کيږي د لوح محفوظ څخه ليکونکو (ملائکوته بيانيږي) او د هغه څه په اړه په کې فيصله کيږي چې په دې کال کې واقع کيدونکې دی ، هغه اجلونه او رزقونه او هغه څه چې ددې کال تر اخره پورې واقع کيدونکي دي). تفسير ابن كثير / دار طيبة (٨ /٤٤٥)
و: د ليلة القدر د شپې د قيام په وجه الله تعالی د انسان هغه گناهونه ښنې چې مخکې يې کړي وي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی:«مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» صحيح البخاري ت (٤ /٥٧٤)
ژباړه: څوک چې قيام وکړي د ليلة القدر په شپه کې د ايمان په بناء او د ثواب حاصلولو په نيت سره ، وبه ښنل شي ده ته دده هغه تير گناهونه.

ز: د ليلة القدر په شپه کې د دعاء د قبليدو اميد زيات وي. په حديث شريف کې راځي: عن عائشةَ رضي الله عنها قالت: قلتُ رضي الله عنها: يا رسولَ اللهِ، أرأَيْتَ إنْ وافقْتُ ليلةَ القَدْرِ ما أدْعُو؟ قالَ: تقُولينَ: اللهُمَّ إنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ العَفْوَ فاعْفُ عنِّي) رواه ابنُ ماجه

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه وايې چې ما وويل ای د الله رسوله! ما پوهه کړه که چيرې(پوهه شم چې) زه برابره شوې يم د ليلة القدر د شپې سره ، زه کومه دعاءوکړم؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: ته به داسې وايې: ای الله ! بيشکه ته عفوه کوونکی يې ، عفوه خوښوې، ماته عفوه وکړه.

**٣-د قرآن کريم تلاوت.** د رمضان المبارک د اخيري عَشَرې د اعمالو څخه يو هم د قرآن کريم تلاوت دی. په کار ده چې په دغو شپو او ورځو کې د قرآن کريم تلاوت زيات وشي او په تدبر او خشوع سره قرآن کريم ولوستل شي.

جبرائيل عليه السلام به د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په رمضان المبارک کې د قرآن کريم تلاوت کولو.

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ:« كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ». صحيح البخاري ت (١٢ /٤٤٠)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله څخه روايت دی، هغه وايي چې وو(جبرائيل عليه السلام)، چې تکرارولو به يې نبي عليه السلام سره قرآن کريم په هرکال کې يوځل او تکرار يې کړلو قرآن کريم نبي عليه السلام ته دوه ځله په هغه کال کې چې نبي عليه السلام په کې وفات شو.

**۴-اعتکاف** . اعتکاف د بهترينو اعمالو څخه دی او نبي عليه السلام به د رمضان المبارک په اخيري عَشَره کې اعتکاف کولو.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ- وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي كُلِّ رَمَضَانٍ عَشَرَةَ أَيَّامٍ، فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْمًا». رواه البخاري

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي: نبي عليه السلام به اعتکاف کولو د رمضان المبارک په هره مياشت کې لس ورځې(اخيري لس ورځې) او په هغه کال کې چې نبي عليه السلام په کې وفات شو ، په هغه کال کې يې شل ورځې اعتکاف وکړ.

**۵- زياتې دعاګانې کول.** د رمضان المبارک د اخيري عشرې داعمالو څخه د زياتو دعاګانو او اذکارو لوستل دي.

په اخيري عشره کې زياتې دعاګانې کول غوره کار دی. ځکه که چيرې دعاګانې د هغې شپې سره برابرې شي چې په هغه شپه کې ليلة القدر وي ، نو دعاګانې به مو قبولې شي .

**٦-صدقات او نيک اعمال کول.** په اخيري عشره کې د زياتو صدقاتو او نيکو اعمالو ترسره کول هم زيات ثوابونه لري.
ځکه په حديث شريف کې راځي چې نبي عليه السلام به په رمضان کې تر بل هروخت څخه زيات سخي کيدلو .
د سخاوت څخه مراد نيک کارونه کول ، خيراتونه او صدقات ورکول، خلکو سره ددنيا او اخرت په کارونو کې مرسته کول دي.
**۷-د خپل کورنۍ له خلکو سره په عبادت او طاعت کې مرسته کول.**
په حديث شريف کې راځي چې نبي عليه السلام به په اخيري عشره کې عبادت ته ملا وتړله او خپل اهل به يې هم د عبادت لپاره راپاڅول.

## د اعتکاف فضائل او احکام:

د رمضان المبارک په اخيري عشره کې اعتکاف مؤکد سنت دي .
اعتکاف په هغه مسجد کې کفايي سنت دی، چې پنځه وخته په جماعت سره لمونځ په کې کيږي.نور الإيضاح (ص: ١١٤)
په يو حديث شريف کې رازي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ. صحيح البخاري ت (٥ /١٦٣)
ژباړه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې نبي عليه السلام به د رمضان په اخيري عشره کې اعتکاف کولو.
په يو بل روايت کې راځي چې نبي عليه السلام د رمضان المبارک په اخيري عَشَرې کې پر اعتکاف مواظبت کړی دی .

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ»صحيح البخاري ت (٥ /١٦٤)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي عليه السلام کور وداني څخه روايت دی ، هغه وايي چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په اخيري عَشَرې کې (تل) اعتکاف کولو ترڅو چې الله تعالی هغه واخيست.

امام زهري رحمه الله فرمايي: ( يَا عَجَبًا لِلنَّاسِ تَرَكُوا الِاعْتِكَافَ وَمَا تَرَكَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ دَخَلَ الْمَدِينَةَ إلَى أَنْ تَوَفَّاهُ اللَّهُ). الجوهرة النيرة (٢ /٦) ژباړه: ای تعجبه دې خلکو لره! دوی پریښی دی اعتکاف ، حال داچې نه دی پریښی اعتکاف نبي عليه السلام د هغې ورځې نه چې مدينې منورې ته داخل شوی دی؛ آن تر هغه وخته پورې چې الله تعالی هغه واخيست.

امام عطاء رحمه الله وايي: مثل المعتكف كمثل رجل له حاجة إلى عظيم فيجلس على بابه ويقول لا أبرح حتى تقضي حاجتي والمعتكف يجلس في بيت الله تعالى ويقول لا أبرح حتى يغفر لي فهو أشرف الأعمال إذا كان عن إخلاص.[ المبسوط للسرخسي]

ژباړه: د معتکف مثال دهغه سړي په شان دی چې کوم مشر ته يې ضرورت بند وي او دهغه په دروازه کې کيني او ورته وايي چې زه به دلته ترهغې ناست يم ، ترڅو زما حاجت پوره کړې. معتکف هم دالله جل جلاله په کور کې کيني او وايي چې تر هغې به دلته ناست يم، ترڅو راته ببښنه وشي بناءً اعتکاف تر ټولو غوره عمل دی کله چې په اخلاص سره وي.

اعتکاف د اشرف الاعمالو څخه دی، ځکه چې په اعتکاف کې دوه عبادتونه يوځای شوي دي ، يوه روژه او بل اعتکاف.

د اخيري عشرې په اعتکاف کې بل فضيلت هم پروت دی، چې هغه د رمضان المبارک اخيري عشره ده.

د رمضان المبارک د اخيري عَشَرې په اعتکاف کې زيات حکمتونه او فائدې دي ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١-د الله تعالی د رضا حاصلولو لپاره خلوت او ځان د هغه عبادت ته وزګارول.لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا) المزمل ( ٨).ترجمه :او يادوه نوم د رب خپل او جدا شه له هر شي څخه په لوري د دغه (رب خپل) جدا کېدل کامل.

(تبتل) ددنيا سره مقاطعه کول او د الله تعالی ذکر او عبادت ته ځان وزګارولو ته ويل کيږي.

په (تبتل) کې دوه خبرې موجود وي يو اتصال او بل انفصال. د دنيوي مشغولوونکو کارونو څخه د زړه جدا کول او ددنياوي کارونو سره د علاقې قطع کولو ته ويل کيږي. او بل اتصال دی او هغه داچې جسماً او روحاً د الله تعالی سره د زړه تړل دي او د هغه په مرضی سره د زړه تعلق جوړولو ته اتصال ويل کيږي.

٢- د نفس سره د محاسبې په خاطر خلوت کول دي او د زړه د اصلاح او تزکيې لپاره اعتکاف ښه فرصت دی. الله تعالی فرمايلي دي:(قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا).الشمس:( ٩- ١٠)ترجمه: چې په تحقيق سره نجات وموندو په مراد ورسېد هغه څوک چې پاک يې کړ دا (نفس له معاصيو).زمونږ اسلافو به په دې مبارکو شپو کې اعتکاف کولو او د خپلو نفسونو سره به يې محاسبه کوله او له ګناهونو څخه به يې نفسونه رامنع کول.

٣-په اعتکاف سره د ليلة القدر د شپې د لټولو فرصت مهيا کيږي او د ليلة القدر د شپې لټون په داسې ځايونو کې ترسره کيږي، چې هغه ځايونه الله تعالی ته د ټولو مکانونو مقدس ځايونه دي ، چې هغه مساجد دي.

٤-اعتکاف په حقيقت کې ددنيا او ددنيوي شهوتونو او کارونو څخه ځان ګوشه کول دي ؛ ځکه چې دنيوي کارو بار او تجارتونه او وظائف د انسان او د عبادت تر منځ حائل واقع کيږي..

٥-په اعتکاف کې د عبادت لپاره ځان وزګارول دي. لکه لمونځونه، تلاوت ، ذکر او دعاء ګاڼې کول. الله تعالی فرمايلي دي:

(فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ * وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ)الشرح:( ٧- ٨)ترجمه: نو کله چې فارغ شې( ای محمده دنيوي کارونو نه، يا له تبليغه) نو ځان ستړی کوه (په عبادت، دعاء کې) او رب خپل ته پس رغبت او زاري کوه (په هر وقت کې).

٦- اعتکاف د نفس عادت کول دي د مسجد سره او د مسجد سره د تعلق جوړول دي . همدا راز په اعتکاف کې د مسجد د لمونځ کوونکو سره د غوره تعلق او محبت ساتلو وخت دی.

٧- په اعتکاف سره د جماعت موندل او په جماعت سره د لمونځ کولو فرصت ترلاسه کيږي او معتکف هغه کس دی، چې تل د لمانځه په انتظار کي ناست وي او دلمانځه دجماعت انتظار په رباط کې حسابيږي.

٨-په اعتکاف کولو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سُنتو ژوندي کول او دهغه د سنتو پيروي او متابعت کول دي.

**د اعتکاف شرطونه:**

د اعتکاف له شرطونو څخه ځينې په لاندې ډول دي:

١-د اعتکاف لپاره نيت شرط دی.

٢-داعتکاف لپاره مسجد شرط دی؛ هغه مسجد شرط دی ، چې په هغه مسجد کې پنځه وخته لمونځ کيږي.

البته زنانه به د کور په مسجد کې اعتکاف کوي او ځان به دکور د خلکو څخه گوښه کوي.

٣-د مسنون اعتکاف لپاره روژه شرط ده او دجماع څخه ځان ساتل هم شرط دي؛ ځوک چې اعتکاف ته کښيني بايد روژه وي، معتکف د انساني عذر نه پرته او جمعی لمانځه ته د تللو نه پرته نشي کولای چی مسجد نه بهرشي که بی عذره ديو ساعت لپاره بهر شي اعتکاف يې فاسديږي او که چا په شپه کې په قصد يا هيری سره کوروالی وکړ اعتکاف يې باطليږي[الاختيار لتعليل المختار]

۴- د زنانه ؤ د اعتکاف لپاره شرط ده چې د حيض او نفاس څخه به پاکې وي. له حيض او نفاس سره اعتکاف جواز نه لري ځکه اعتکاف عبادت دی او عبادت پرته له طهارت څخه درست نه دی.

**د اعتکاف آداب:**

د اعتکاف ځينې آداب په لاندې ډول دي:

١-د روژې د اخيري عَشَرې اعتکاف لپاره مسنون طريقه داده، چې معتکف به د شلمې روژې په مازيگر د لمر دغروب څخه مخکې مسجد ته داخل شي.

٢-مخکې له دې چې اعتکاف ته کيني بايد خپل نوکان واخلي ، د خپل د سر ويښتان هم کم کړي، خپل بدن پاک کړي.

٣-اعتکاف کوونکی بايد له هر ډول رياء او نورو دنيوي مقاصدو څخه په پاک نيت سره اعتکاف ته داخل شي.

۴-په کار ده چې داعتکاف پروخت د اعتکاف هدف او مقصد په نظر کې ونيول شي او په هر وخت کې معتکف ته ور ياد وي ، چې ځان يې دالله جل جلاله عبادت ته ځانگړی کړی دی او د زړه په حضور سره په اعتکاف کې تل موجود وي.

۵- په شپه او ورځ کې به په عباداتو، اورادو او اذکارو باندې ترکيز کوي، لکه په جماعت سره لمونځ کول، د سنتو لمونځونو اهتمام کول، د مستحبو لمونځونو خيال ساتل دمثال په ډول د اشراق لمونځ، دشپې قيام الليل، دهر اودس څخه وروسته لمونځ ، د ماښام د سنتو پسې شپږ رکعته لمونځ ، دشپې د اذکارو لوستل، د ورځې دمختلفو وختونو اذکار ويل، دقرآن کريم زيات تلاوت کول، دمؤذن اذان نه وروسته آذان ته جواب ويل او داسې نور.

٦- معتکف بايد کوښښ وکړي چې د لمانځه لپاره د خوبه وختي پاځي او دلمانځه لپاره تياری ونيسي، د لمانځه لپاره اودس وکړي او په خشوع او خضوع سره سنت لمونځ ادا کړي.

۷-معتکف باید وخت غنیمت وګڼي او نفل لمونځونه زیات وکړي او ددې لپاره چې په یوعبادت کې زیات ستړی نشي مختلف نفلي عبادتونه وکړي، هغه داسې چې ځینې وخت دې نفلي لمونځ وکړي ، ځینې وخت دې د ځاښت او نور مستحب لمونځونه وکړئ، ځینې وخت دې تلاوت وکړي ، کله دې تسبیح، تهلیل اوتحمید ووایې، ځینې وخت دې دعاء وغواړي او استغفار دې ووایې او په ځینو وختونو کې دې پر پیغمبرعلیه السلام درود ووایي.

۸-معتکف باید خوراک کم وکړي، خبرې کمي وکړي او خوب کم وکړي. په ډېر خوب او خوراک سره په وجود کې سستي پیدا کیږي او د عبادت څخه انسان پاتې کیږي.

۹-معتکف باید کوښښ وکړي چې په اودس باندې وي، ترڅو دشیطان له وسوسو څخه په امن کې وي.

۱۰-که چیرې په مسجد کې له یو څخه زیات معتکفین موجود وي، دوی باید یو بل ته په صبر توصیه وکړي، یوبل ته د وخت څخه دسالمې استفادې په اړه توصیه وکړي او کوښښ دې وکړي چې دعبثو خبرو څخه ځانونه وژغوري او یو بل سره عبادت ته په پاڅیدلو کې مرسته وکړي.

۱۱-زیات زیارت کوونکي او دزیارت کوونکو سره زیات وخت ضایع کولو څخه باید ډډه وشي.

۱۲- پرته له ضرورته د مبایل استعمال اعتکاف ته زیان اړوي او دمعتکف وخت ضایع کوي.

## د اسلامي امارت څخه د ولس ملاتړ

**درنو هیوادوالو او مجاهد ولسه!**

د خپل هیواد ، ولس او اسلامي نظام څخه دفاع پر ټول ولس فرض ده.

د رمضان المبارک په مقدسه میاشت کې د ګاونډي هیواد یوې مشخصې اجیرې کړۍ او غلام نظامیانو زموږ هیوادوال په شهادت ورسول، چې زموږ دفاعي ځواکونه او مجاهدین دې ته اړ شو، چې په غچ اخیستونکو عملیاتو سره غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي او ددې لپاره چې ملکیانو ته کوم زیان ونه رسیږي، یوازې نظامي تأسیسات تر هدف لاندې ونیول شول، چې ګڼ شمیر اجیره ملیشه ووژل شول او ځینې یې په اسارت ونیول شول.

په دې حساس وخت کې دافغانستان پر ملت باندې د خپل حریم، ولس او اسلامي نظام څخه دفاع کول فرض دي.

د خپل حریم، سرحدونو، خپل ولس او نظام څخه دفاع زموږ مشروع حق دی او دا ستر جهاددی چې د ظالم د ظلم مخنیوی وشي او د هغه ظلم ته ځواب ورکړل شي.

الله تعالی فرمایلي دي:{ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ}.[الحج: ۳۹]

ترجمه: حکم ورکړی شوی دی (د قتال) هغو کسانو ته چې د هغو سره قتال کوی شي، په دې سبب چې بیشکه په دوې ظلم شوی دی او بیشکه چې الله په مرسته ددوی خامخا ښه قادر دی.

په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمایلي دي:{فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ}.[ البقرة: ١٩٤]

ترجمه: پس هرچاچې تیری وکړ پرتاسې باندې ، نو تاسې هم تیری کوئ! په هغوی باندې په شان دهغه چې تیری یې کړی ؤ پر تاسې باندې.

داچې زمونږ پر حریم تجاوز او تیری د ګاونډي پاکستاني نظامیانو له خوا شوی دی او ددې نتائجو دنیوي او اخروي مسئولیت به د هغه چا په غاړه وي چې چا ددې کار پیل کړی وي، ځکه څوک چې د کوم د بد عمل تهداب کیږدي ، نو دده د جرم څخه د را ولاړ شویو نتائجو ګناه به هم دده په غاړه وي.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا إِلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لأَنَّهُ كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ ». متفق علیه

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه وژني یو نفس بل نفس لره؛ مګر وي به د آدم علیه السلام لومړي زوی (قابیل) لره برخه په وینه د مقتول کې (یعنې هغه ته به د هر قتل ګناه رسیږي) ، ځکه چې هغه لومړی هغه کس ؤ چې قتل یې پیل کړ.

ددښمن د تجاوز د مقابلې په اړه الله تعالی فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) آل عمران:(٢٠٠)ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) صبر کوئ (په طاعت ، مصیبت،او له معصیته) او ټینګ اوسئ! په صبر (د کفارو په مقابل کې) او محکم اوسئ ( په اسلامي سرحداتو کې)! او وویریږئ له الله ! لپاره د دې چې په مراد ورسیږئ! (بریالي شئ او د دوزخه نجات ومو مئ!).

**درنو هیوادوالو!**

په دې کې شک نشته چې د خپل ځان، مال ، اهل، حریم او خپل اسلامي نظام څخه دفاع یو مشروع هدف او اسلامي اصل دی او د ظلم دفع کول او د تعرض مخه نیول پر مسلمان لازم دي او په دې لاره کې مرګ د شهادت مرګ دی.په حدیث شریف کې راځي: «مَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ» سنن الترمذي (٤/ ٣٠) ، سنن النسائي (٧/ ١١٦)

ژباړه: څوک چې د خپل دین په لاره کې ووژل شو، نو هغه شهید دی، څوک چې د خپل مال څخه ددفاع په لاره کې ووژل شو، نو هغه شهیددی، څوک چې د خپلې وینې (ځان) ددفاع په لاره کې ووژل شو، نو هغه شهید دی او څوک چې د خپل اهل څخه ددفاع په لاره کې ووژل شو، نو هغه شهید دی.

د خپل هیواد، حریم او ولس او نظام څخه ددفاع په موخه پهره داري کول او شپه او ورځ په وینبنه تیرول د یوې میاشتې د روژې څخه بهتر دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ ». صحیح مسلم (٦/ ٥٠)

ژباړه: ددښمن په لومړي خط کې (د حراست لپاره) یوه ورځ او یوه شپه تیرول بهتره ده د یوې میاشتې د روژو څخه او د یوې میاشتې د قیام اللیل څخه.

په یو بل روایت کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«مَنْ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ»
صحیح البخاري ت (۲/ ۳۱۹)

ژباړه: د چاچې دواړه پښې ګردجنې شي د الله تعالی په لار (جهاد) کې ، الله تعالی به حرام کړي هغه (شخص) په اور باندې .
یعنې د جهنم اور به ورته نه رسیږي.
**مجاهد ولسه!**

اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې مونږ ټول هیوادوال د خپلو مجاهدینو په څنګ کې ودریږو او خپل حمایت او ملاتړ د خپلو دفاعي ځواکونو څخه اعلان کړو.

د خپلو نیکونو په شان مونږ د افغانستان ټول قومونه یو موټی او په یو آواز سره د خپلو مجاهدینو او دفاعي ځواکونو ترشاه ولاړ یو.

مونږ د افغانستان ټول ولس د خپلو دفاعي ځواکونو او مجاهدینو څخه خپل هر اړه اخیز ملاتړ او حمایت اعلانه وو او د هغه چا مقابلې ته په ډیره خوشحالی چمتو یو چې د څو ډالرو د ترلاسه کولو په موخه یې یو ځل بیا د غربي زبرځواکونو سره زمونږ د وژلو لپاره تړون امضاء.

د هغه چا په مقابل کې خپل مرګ شهادت ګڼو او ورسره مقابله جهاد ګڼو، چې په هیواد کې یې انګریزي او طاغوتي نظام حاکم دی او د کفري قانون تر سیوري لاندې ژوند کوي او د مظلومو فسلطینیانو د محاصرې لپاره دکفري نړی په ملګرتیا کې ئې ځان شامل کړی دی او د فسلطین د مجاهدینو په محاصره کې برخه لري.

**بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول ما تسمعون وأستغفر الله العظيم الجليل لي ولكم ولسائر المسلمين من كل ذنب فاستغفروه إنه هو الغفور الرحيم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**